<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

## تونسي چارواکو د حزب التحرير يو غړی د غزې د خلکو د ملاتړ په «جرم» نیولی

(ژباړه)

د تونس په پلازمېنه کې يوې امنيتي ادارې د ۲۰۲۴م کال، د جنوري ۵ مه د حزب التحرير له لوري تنظيم شوي لاريون وروسته يو ځوان، محمد امين نیولی. دغه لاريون له الفتح جومات څخه پيل شو او د ښاروالۍ تر تياتر پورې له «موږ يو قوم نه يو چې له بل قوم سره خواخوږي وکړو؛ بلکې موږ يو واحد امت يو!» غږ سره روان و.

**د حزب التحرير- ولايه تونس مطبوعاتي دفتر د دې ناعادلانه نيونې په اړه لاندې ټکو ته اشاره کوي:**

۱. لومړی ځل نه دی چې دا ډول پېښه کېږي، بلکې په وار وار تکرار شوې. دا د همغو پخوانيو حکامو د پاليسيو دوام دی، چې تورونه پورې کوي او غواړي هغه غږ چوپ کړي چې د شريعت امر دی؛ له يهودو سره د مبارزې او د هغو مسلمانانو د ملاتړ غږ چې د نړۍ د سترګو په وړاندې له منځه وړل کېږي. دوی وايي چې د مسلمانانو د حکامو منافقت به نه يادوئ او د واک څښتنانو ته د اسلام په ژبه خطاب جرم دی، ځکه خو د حزب التحرير شباب پرې نيول کېږي!

د تونس چارواکي ادعا کوي چې د غزې له خلکو سره ولاړ دي؛ خو د حزب التحرير د شبابو له نيولو لاس نه اخلي، چې پر پوځونو غږ کوي چې په فلسطين کې د وينو تويولو مخه ونيسي!

۲.  د تونس رژيم د حزب التحرير د شبابو د پرله پسې نيولو له لارې هڅه کوي چې پر پوځونو د بسيج کېدو غږ چوپ او د قدرت له څښتنانو څخه د مظلومانو د ملاتړ مفکورې پر وړاندې خنډ شي؛ ځکه پوهېږي چې دغه غږ د يوې مشروع حللارې او د فلسطين لپاره د واقعي ملاتړ پر لور د امت د بسيج کېدو غږ دی.

۳. دا ناعادلانه نيول حزب التحرير له حق څخه نه شي راګرځولی او نه يې د دعوتګرو هوډ کمزوری کولی شي. دا پر الله سبحانه وتعالی د دوی باور، عزم او د حق پر لار ثبات لا ډېروي. له دې سره د دغو دعوتګرو يقين لا ډېرېږي چې الله سبحانه و تعالی خپلو مومنو بندګانو ته بری او نصرت ورکوي؛ خير که لږ وروسته هم شي.

**«أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيبٌ»** [بقرة: ۲۱۴]

**ژباړه:** *«له شک پرته، د الله تعالی نصرت نيږدې دی»*

د حزب التحرير- ولايه تونس مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۲۴مه

۲۰۲۴م کال، د جنوري ٦مه

د صدر ګڼه: ۱۸/ ۱۴۴۵

ژباړن: محمد حامد